بسم الله الرحمن الرحيم

ستره محکمه

# جریده میـــزان

د سترې محکمې کاري ځرګندویه خپرونه

**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله یې ایښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زیاتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.
تفسیر کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

دو شنبه ۲۵ غبرګولی ۱۴۰۵ هـ ش | ۲۹ ذو الحجة الحرام ۱۴۴۷ هـ ق | ۱۵ جون ۲۰۲۶ م | مسلسله شمېره (۱۳۷)

## د سترې محکمې د اداري مرستیال په مشرۍ د اداري مراسلاتو او عرایضو لپاره د انلاین سیستم او ډیټابیس د طرحې جوړېدو په موخه غونډه وشوه

د سترې محکمې د اداري مرستیال محترم شیخ سخاءالله (سعید) صاحب په مشرۍ، د سه‌شنبې په ورځ (۱۴۴۷/۱۲/۲۳هـ ق) نېټه، په وزارت خانو او ادارو کې د سیستم سازۍ اړوند د ریاست الوزراء عالي مقام اقتصادي معاونیت د ۱۴۴۷/۱۱/۲۹هـ ق نېټې، (۸۱۱۸) ګڼې حکم په اساس، د سترې محکمې او مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت د یو شمېر مسؤولینو په ګډون، په محاکمو کې د اداري مراسلاتو (مکتوب، وړاندیز او استعلام) او عرایضو لپاره د انلاین سیستم او ډیټابیس د طرحې د جوړولو په موخه غونډه وشوه.

یاده غونډه چې د سترې محکمې د مرکزي ریاستونو د رئیسانو او استازو سربېره په کې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت د اړوند برخې مسؤولینو ګډون درلود، د قرآنکریم د مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه.

وروسته د سترې محکمې د اداري چارو رئیس محترم سید مجیب الله (آغا) د ناستې ګډونوالو ته د اجنډا اړوند معلوماتو ورکولو سربېره په محاکمو کې د ورځنیو چارو د ساده کولو او مراجعینو ته د لازمو اسانتیاوو رامنځته کولو په موخه د جوړېدونکي انلاین سیستم او ډیټابیس اړوند خبرې وکړې.

دغه راز د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت د پروسو د ساده سازۍ رئیس ښاغلي سید نجم الدین (سادات) د اداري مراسلاتو او عرایضو د مدیریت سیستم (DLMS) څخه د استفادې او د دغه سیستم د تطبیق د څرنګوالي په اړه د ناستې ګډونوالو ته معلومات ورکړل وویل، په دغه سیستم کې چې د نورو ادارو لپاره هم جوړ او په لاره اچول شوی، به ټول اداري مراسلات او عریضې کمپیوټري کېږي.

نوموړي زیاته کړه، همدارنګه به د دغه سیستم په وسیله عارضین کولای شي خپلې عریضې په انلاین بڼه ثبت کړي، له ثبت وروسته به د اړوند اداري لخوا احکام او عارض ته به یې په انلاین بڼه معلومات رسېږي.

د پروسو د ساده سازۍ ریاست تخنیکي همکارانو د یاد سیستم په اړه تفصیلي معلومات وړاندې کړل او د ګټو په اړه یې وویل، د دغه سیستم په وسیله به، چې پوره شفافیت او محرمیت په کې موجود دی، کاغذي مراسلات او عریضې ختمې شي، په کم وخت کې به عریضه او اداري مراسلات تر اړوند شعبې او شخص رسېږي او د هغه لخوا په پرېږ د اصولو مطابق احکام ترسره کېږي.

د ناستې په وروستیو کې د سترې محکمې اداري مرستیال محترم شیخ سخاءالله (سعید) صاحب د دغه سیستم د طرحې پر جوړېدو خوښي څرګنده کړه او ډاډ یې ورکړ، چې د دغه سیستم په جوړېدو او تطبیق سره به د محاکمو ورځنې چارې لا چټکې شي؛ مسؤولینو ته یې په دې برخه کې د لازمو هڅو او پوره همغږۍ هدایت وکړ.

دغه ناسته د دعاء په ویلو پای ته ورسېده.

## د لغمان ولایت مرافعه محکمې مسؤولینو په هڅو د قتل یوه موضوع د سولې له لارې حل او فصل شوه

د لغمان ولایت مرافعه محکمې رئیس شیخ سخي الرحمن (فایز فیروز کوهي)؛ د جزا دیوان رئیس مفتي عارف الله (عنایت) او قضائي غړو په ترغیبي هڅو، د قومي مشرانو او مصلحینو په منځګړیتوب، په ۶/ ۱۲/ ۱۴۴۷هـ ق د قتل یوه موضوع، چې ابتدائیه محکمې په کې قاتل پر قصاص محکوم کړی و، د سولې له لارې حل او فصل شوه.

یاده د قتل پېښه د لغمان ولایت د دولت شاه ولسوالۍ په (خواجه خندو) کلي کې رامنځته شوې وه او یو کس په کې وژل شوی و.

دغه موضوع ابتدائیه محکمې ته تر راجع کېدو وروسته په غور او دقت وڅېړل شوه، ابتدائیه محکمې پر قاتل د قصاص حکم وکړ؛ خو د قاتل لخوا د مرافعه غوښتنې په اساس یې دوسیه مرافعه محکمې ته راجع شوه.

د مرافعه محکمې د جزا دیوان مسؤولینو په ترغیبي هڅو؛ د مصلحینو او قومي مشرانو په منځګړیتوب د مقتول کورنۍ سولې ته غاړه کېښوده؛ موضوع یې حل او رسماً پای ته ورسېده.

## د ننګرهار ولایت ښاري ابتدائیه محکمې مسؤولینو په هڅو د څلورو کورنیو ترمنځ دښمنۍ حل شوې

د ننګرهار ولایت ښاري ابتدائیه محکمې د رئیس مولوي سلطان محمد (رباني)؛ د (الف جز) د جزا د دیوان رئیس مولوي امین ګلاب په پرله پسې هڅو، د قومي مشرانو، علماوو او مخورو په همکارۍ د څلورو کورنیو ترمنځ اوږدمهاله دښمنۍ، چې په ترڅ کې یې دوه تنه وژل شوي هم وو، په دوستۍ بدلې شوې.

یادې دښمنۍ د مرکز جلال‌آباد ښار په اتمه او شپږمه ناحیو کې د څلورو کورنیو ترمنځ رامنځته شوې وې، چې ابتدائیه محکمې ته تر راجع کېدو وروسته په دقت وڅېړل شوې او د طرفینو ترمنځ سوله وشوه.

د یادو کورنیو غړو د جرګې پرېکړه ومنله او ژمنه یې وکړه، چې تر دې وروسته به د دښمنۍ پر ځای د ورورولۍ، سولې او متقابل احترام په فضاء کې ژوند کوي.

د یادونې وړ ده، چې د ښاري ابتدائیه محکمې د جزا دیوان مسؤولینو له خوا په دوه جلا غونډو کې په رسمي ډول د سولې حکم ابلاغ او د یادو کورنیو ترمنځ شته دښمنۍ په دوستۍ بدلې شوې.

## د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د متحدالمآل ګڼه: ۴۰**

**نېټه: ۱۴۴۷/۱۲/۲۱ هـ ق**

د سترې محکمې ریاستونو، تمیزونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: په پښتو یا دري ژبه د ضرورت وړ وثائقو د ترتیب په هکله.

د بهرنیو چارو وزارت د قونسلي چارو ریاست په ځینو هېوادونو کې د افغاني اتباعو د وثائقو اړوند د ځینو ستونزو په ذکر کولو سره د یادو ستونزو د حل په موخه غوښتنه کړې چې د اړتیا وړ وثائق که په دري ژبه هم د محاکمو لخوا ترتیب شي یادې ستونزې به ورسره حل شي.

یاد جریان د سترې محکمې محترم عالي مقام ته وړاندې شو محترم مقام د هېوادوالو د ستونزو د حل په موخه هدایت وکړ:" دا چې د هېواد په رسمي (پښتو او دري) ژبو وثائق ترتیب شوي او محکمو ته استول شوي دي په دې اساس هېوادوال چې د وثیقې ترتیبول د پښتو او دري ژبو څخه په کومه ژبه وغواړي محاکم دې په هماغه ژبه ورته ترتیبوي ترڅو مشکل یې حل او د بې ځایه سرګردانۍ مخنیوی یې وشي".

بناءً یاد حکم د عملي کولو په موخه تاسو ته واستول شو.

**د قضاء تاریخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته**

**د عمر فاروق رضي الله عنه په دوره کې قضاء:**

**دیارلسمه برخه:**

**تشریح:**

«بېشکه قضاء یو محکم فرض دی»: یعنې داسې قطعي دی، چې د نسخ هېڅ احتمال نه لري.

«او یو پیروي کېدونکی سنت دی»: یعنې په دین کې داسې یوه لاره ده، چې پیروي یې واجب ده.

«کله چې یوه دعوه درته وړاندې شي، ښه یې درک کړه»: وړاندې کېدل په دې معنی چې حاکم ته یو خصومت او شخړه وړاندې شي د حل په موخه او له درک څخه موخه حق ته رسېدل دي؛ نو معنی به یې داسې شي، چې هر کله کوم خصومت درته وړاندې شي، حق ته د رسېدو لپاره ټول کوښښ او هڅه وکړه. ځینې بیا وايي، چې د دواړو خصمینو خبرې سمې واوره او په هدف یې ځان پوه کړه، چې په همدې بانډې هر یو قاضي مأمور دی؛ ځکه حق له باطل څخه یوازې په همدې توګه جلا کېدی شي او ښايي یو له خصمینو څخه په ژبه د داسې څه اقرار وکړي، چې هغه د خپل خصم لپاره په حق بانډې اقرار وي؛ نو که قاضي په دې پوه شي، نافذ دې یې کړي؛ خو که پوه نه شو، حق ضایع شو. دې خبرې ته په رساله کې دلته اشاره شوې چې وايي: «ځکه داګټه نه لري، چې حق خبره وشي خو عمل پرې ونه شي». ځینو بیا ویلي، چې هدف دا دی، چې د شاهدانو خبرو ته غوږ ونیسه او په هدف یې ځان پوه کړه؛ ځکه دوی ستا په مخ کې د حق په تړاو خبرې کوي او ګټه یې هغه وخت ښکاره کېږي، چې قاضي یې بیا نافذې کړي.

اخذلیک: د قضاء تاریخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته، ۶۸ صفحه، تألیف: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحیم راشد

## محاکم ولایت کندز طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۶۱۹) دوسیه، به تعداد (۲۳۳) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌های ولایت کندز طی دو هفته (از ۱۵/ ۱۱/ ۱۴۴۷هـ ق الی ۳۰/ ۱۱/ ۱۴۴۷هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۶۱۹) دوسیه، به تعداد (۲۳۳) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۴۵۱) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۸۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۸۳) دوسیه فیصله شده، (۳۰) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۲۵) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۴۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۳۷) دوسیه فیصله شده، (۳۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت کندز به تعداد (۲۳۳) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## د زابل ولایت محاکمو په دوو اونیوکې (۹۲) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۴۷) وثيقې هم اجرا کړې دي

د زابل ولایت د مرافعه، ښاري ابتدائیه، نظامي او د تولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې (له ۱ / ۱۲/ ۱۴۴۷هـ ق څخه تر ۱۵ / ۱۲/ ۱۴۴۷هـ ق) نېټې پورې (۹۲) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۴۷) وثيقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د زابل ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۸۷) حقوقي دوسيې راجع شوې دي؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسيې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲۲) دوسيو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۲۴) دوسيې فیصله شوې، (۱) دوسیه مکتوبي مسترده شوې او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د زابل ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۴۱) جزائي دوسيې راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسيې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲۵) دوسيو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۲۰) دوسيې فیصله شوې او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

**د وثيقو په برخه کې:**

د زابل ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۴۷) بېلا بېلې وثيقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم ولایت فاریاب طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۲۲۹) دوسیه، به تعداد (۱۷۲) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌های ولایت فاریاب طی دو هفته (از ۱/ ۱۲/ ۱۴۴۷هـ ق الی ۱۵/ ۱۲/ ۱۴۴۷هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۲۲۹) دوسیه، به تعداد (۱۷۲) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۳۴) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۰۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۹) دوسیه فیصله شده، (۱۹) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۹۶) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۳) دوسیه فیصله شده، (۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت فاریاب به تعداد (۱۷۲) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت تخار طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۴۹۴) دوسیه، به تعداد (۲۵۳) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌های ولایت تخار طی دو هفته (از ۱/ ۱۲/ ۱۴۴۷هـ ق الی ۱۵/ ۱۲/ ۱۴۴۷هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۴۹۴) دوسیه، به تعداد (۲۵۳) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت تخار به (۳۲۰) دوسیهٔ حقوقی رسیدگی صورت گرفته‌است.

از آن جمله در رابطه به (۲۱۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۳) دوسیه فیصله شده و (۴۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده‌است.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت تخار به تعداد (۱۷٤) دوسیهٔ جزائی رسیدگی صورت گرفته‌است.

از آن جمله در رابطه به (۶۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۰۰) دوسیه فیصله شده و (۱۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده‌است.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت تخار به تعداد (۲۵۳) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت جوزجان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۱۹۷) دوسیه، به تعداد (۱۴۱) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری، نظامی، اختصاصی و ابتدائیهٔ ولسوالی‌های ولایت جوزجان طی دو هفته (از ۱/ ۱۲/ ۱۴۴۷هـ ق الی ۱۵/ ۱۲/ ۱۴۴۷هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۱۹۷) دوسیه، به تعداد (۱۴۱) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۹۶) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۶۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۹) دوسیه فیصله شده، (۱۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۷۳) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۵۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۹) دوسیه فیصله شده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت جوزجان به تعداد (۱۴۱) قطعه وثایق نیز اجرا گردیده‌است.

## د ننګرهار ولایت محاکمو په دوو اونیوکې (۲۵۲) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۱۱۸) وثيقې هم اجرا کړې دي

د ننګرهار ولایت مرافعه، وثایقو، ښاري ابتدائیه او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې (له ۱/ ۱۲/ ۱۴۴۷هـ ق څخه تر ۱۵/ ۱۲/ ۱۴۴۷هـ ق) نېټې پورې (۲۵۲) دوسیو ته رسېدنه کړې او (۱۱۸) وثيقې یې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۷۳) حقوقي دوسيې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسيې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۴۱) دوسيو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۲۶) دوسيې فیصله شوې، (۴) دوسيې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۱۷۷) جزائي دوسيې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسيې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۸) دوسيو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۱۵) دوسيې فیصله شوې، (۲) دوسيې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

**په تجارتي برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۳۳) تجارتي دوسيې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسيې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۳۳) دوسيو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۷) دوسيې فیصله شوې، (۶) دوسيې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

**د وثيقو برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۱۱۸) بېلابېلې وثيقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم ولایت هرات طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۶۱۷) دوسیه، به تعداد (۳۶۴) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌های ولایت هرات طی دو هفته (از ۱/ ۱۲/ ۱۴۴۷هـ ق الی ۱۵/ ۱۲/ ۱۴۴۷هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۶۱۷) دوسیه، به تعداد (۳۶۴) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۸۴) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۲۶۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۲) دوسیه فیصله شده، (۲۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۸۹) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۸۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۱۰) دوسیه فیصله شده، (۱۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش تجارتی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۰۵) دوسیهٔ تجارتی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۴۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۱) دوسیه فیصله شده، (۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

در بخش وثایق:

در جریان دو هفته در محاکم ولایت هرات به تعداد (۳۶۴) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت پروان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۱۱۰) دوسیه، به تعداد (۹۹) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، وثایق، ابتدائیه شهری و ابتدائیه ولسوالی‌های ولایت پروان طی دو هفته (از ۶/ ۱۲/ ۱۴۴۷هـ ق الی ۱۸/ ۱۲/ ۱۴۴۷هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۱۱۰) دوسیه، به تعداد (۹۹) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است؛ که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۶۷) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵) دوسیه فیصله شده، (۱۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۷۰) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۲۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۰) دوسیه فیصله شده، (۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت پروان به تعداد (۹۹) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## د فراه ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۲۲۷) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۱۳۵) وثیقې هم اجرا کړې دي

د فراه ولایت د مرافعه، ښاري ابتدائیه، وثایقو او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې (له ۶/ ۱۲/ ۱۴۴۷هـ ق څخه تر ۲۰/ ۱۲/ ۱۴۴۷هـ ق) نېټې پورې (۲۲۷) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۱۳۵) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

په حقوقي برخه کې:

د فراه ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۱۴۴) حقوقي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۵۶) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۵۹) دوسیې فیصله شوې، (۹) دوسیې مکتوبي مسترد شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

په جزائي برخه کې:

د فراه ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۱۲۲) جزائي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۵۰) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۵۳) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

د وثیقو برخه کې:

د فراه ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۱۳۵) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم ولایت سمنگان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۹۷) دوسیه، به تعداد (۵۲) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، وثایق، ابتدائیه شهری و ابتدائیه ولسوالی‌های ولایت سمنگان طی دو هفته (از تاریخ ۶/ ۱۲/ ۱۴۴۷هـ ق الی ۱۸/ ۱۲/ ۱۴۴۷هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۹۷) دوسیه، به تعداد (۵۲) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۶۹) دوسیه حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۲۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۸) دوسیه فیصله شده، (۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۴۸) دوسیه جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۷) دوسیه فیصله شده، (۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت سمنگان به تعداد (۵۲) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## نو حجاج او معتمرین دې
## له دغو زیانمنو رواجونو ډډه وکړي!

**شیخ الحدیث مفتي محمد الیاس فاتح**

د اسلام مقدس دین پر سترو پنځو بنیادونو ولاړ دی، چې حج پکې د یوې مهمې او عبادتي فریضې په توګه ځانګړی مقام لري.

امام بخاري په خپل صحیح کې د عن عبدالله بن عمر رضي الله عنهما په استناد رانقلوي، چې رسول الله ﷺ فرمایي:

ژباړه: اسلام پر پنځو بنسټونو ولاړ دی؛ د دې ګواهي ورکول، چې له الله پرته بل معبود نشته او محمد ﷺ د الله رسول دی، د لمانځه قائمول، د زکات ورکول، د حج اداکول، او د رمضان روژې نیول. [صحیح البخاري: ۸]

د حج مبارک سفر؛ د ایمان، تسلیمۍ، تقوا او د نفس د تزکیې یوه ستره روحاني مدرسه ده، چې مسلمان پکې د دنیا له ټولو ظاهري او باطني تعلقاتو، درسونو او عبرتونو څخه خبرېږي او د خپل رب د رضا لپاره د بندګۍ په سپېڅلي حالت کې درېږي او د دارینو سعادتونه ترلاسه کوي.

په دې ورځو کې د حج مبارک مراسم د پای ته رسېدو په حال کې دي او له هغه مبارک ځایه د حاجیانو د راستنېدو لومړۍ ځپې ګران افغانستان ته پیل شوې دي.

دا هغه وخت دئ چې د حج روحاني اغېزې باید د حاجي په ژوند، اخلاقو او اجتماعي اړیکو کې ښکاره پاتې شي؛ ځکه چې مقبول او مبرور حج د انسان په ژوند کې د نېکو بدلونونو سبب او د خیر کثیر ذریعه ګرځي.

د حاجیانو د مبارکې قافلې له راستنېدو سره سم، د اسلامي امارت د محبوب زعیم، عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی لاندې پیغام د مخابراتو له لارې د هر ټیلیفون د شمېرې له نیولو سره سم اورېدل کیږي:

« له حج او عمرې وروسته د مبارکۍ په مناسبت درنې مېلمستیاوې، خیراتونه او قیمتي تحفې یو ناسم رواج ګرځېدلی، چې هېڅ شرعي حیثیت نه لري؛ نو حجاج او معتمرین دې له دغو زیانمنو رواجونو ډډه وکړي».

د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی ټول فرمانونه او پیغامونه له محمدي شریعته سرچینه اخلي او د ټولو مسلمانانو لپاره د خیر او برکت ذریعه ګرځېدلی شي، چې پورتنۍ پیغام یې د همدې لړۍ یوه مهمه کړۍ ده.

دا غبرېز پیغام د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د هغه فرمان برخه ده، چې د خپښۍ، ودونو، مصیبتونو او همدا راز له حج او عمرې څخه د راستنېدو پر مهال د ناسمو رواجونو د مخنیوي په هکله د عدلیې وزارت په رسمي جریده کې خپور او توشیح شوی دی، چې د فرمان د حکمونو پوهاوي ورکولو او د هغو عملي کولو په اړه یې څلورمه ماده داسې کښل شوې ده:

(۱): د کورنیو چارو، سرحدونو، قومونو او قبایلو، اطلاعاتو او فرهنګ، د ارشاد، حج او اوقافو، پوهنې او لوړو زده کړو وزارتونه، رسنۍ او په ولایتونو او ولسوالیو کې د علماوو شوراګانې، فقهي مجالس، د مساجدو خطیبان او امامان، ولسي مخور او نفوذ لرونکي مشران دې په حکمت، مصلحت او تفاهم سره په خپله برخه کې د دې فرمان د حکمونو په اړه خلکو ته پوهاوی ورکړي او د پورتنیو احکامو د عملي کولو کوښښ دې وکړي.

(۲): د چارو د ادارې لوی ریاست، د امربالمعروف، نهي عن المنکر او شکایتونو د اورېدلو وزارت او د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوی ریاست دې، په دوامداره توګه د دې (۴) مادې په (۱) فقره کې د یادو وزارتونو، ادارو او اشخاصو له اجراآتو څخه څارنه وکړي.

که مونږ د خپلې ټولنې واقعیت ته سر ورښکاره کړو؛ په ځینو ولایاتو او سیمو کې به د داسې رواجونو حاکمیت ووینو، چې د محمدي غرا شریعت، د حج دې سپېڅلي عبادت پاک روح سره سمون نه خوري؛ بې‌ځایه مصارف، د سفر د ظاهري ښودنو سیالي او د غیر ضروري لګښتونو زیاتوالی، درنې مېلمستیاوې او ناسم دودونه هغه مسایل دي، چې د حج اصلي مقصد؛ اخلاص او تواضع تکني کوي او نور مسلمانان، چې حج پرې فرض ګرځېدلی د دې ملا ماتوونکو رواجونو له امله دا فریضي عبادت ترې پاتې کیږي او یا د ریا پر لارو ورمخ کیږي؛ کله چې عبادت د ریا، سیالۍ او د جامعې رواجي فشار له اغېزو او اثراتو سره مخلوط شي؛ نو د هغه روحاني ارزښت کمزوری کیږي.

اسلام د عباداتو په اداکې د اخلاص، اعتدال او ساده‌ګۍ لارښوونه کوي او دا د رسول الله مبارک په سپېڅلي سیرت کې ښه مطالعه کولی شو او هغه زمونږ د زندګۍ د ټک لارې لپاره ښه اسوه حسنه ده، چې الله تعالی فرمایي:

ژباړه: په یقیني توګه، ستاسې لپاره د الله (جل‌جلاله) په پیغمبر کې د نېکۍ یوه خورا غوره نمونه ده، د هر هغه چا لپاره ده، چې د الله (جل‌جلاله) او د اخرت د ورځې هیله من وي او الله (جل‌جلاله) ډېر ډېر یاد کړي. [ الأحزاب: ۲۱]

حج هغه عبادت دی، چې د انسان له مال، بدن او نفس څخه قرباني غواړي؛ خو دا قرباني باید د شریعت په چوکاټ کې وي، نه د ملا ماتوونکو او بې ځایه رواجونو له امله په درنو او غیر ضروري لګښتونو، چې پایله یې بې ګټې ستوماني او اقتصادي رکود سبب وګرځي.

د حاجیانو د راستنېدو پر مهال د ډالیو او تحفو رواج هم باید د اعتدال په چوکاټ کې وساتل شي. تحفې د محبت او احترام څرګندونه کوي؛ خو کله چې دا کار د رقابت، تکلف او اقتصادي بوج سبب شي، نو خپل اصلي معنا له لاسه ورکوي. اسلام د هغه ټولنیز چلند حمایت کوي، چې پکې اخلاص، ساده‌ګي او د وس مطابق عمل وي، نه د ځان ښودنې، سیالۍ او متضرر کېدلو فضا.

نو حج د اسلام له سترو عباداتو څخه دی، چې د اخلاص، عاجزۍ او تسلیمۍ غوښتنه کوي. مونږ مسلمانان باید هڅه وکړو، چې دا مبارک سفر له هر ډول بې‌ځایه مصارفو، ټولنیزو دودیزو فشارونو او غیر ضروري رواجونو څخه پاک وساتو، څو د دې عبادت حقیقي روح ژوندی پاتې شي، د فرد او ټولنې په اصلاح کې خپل اغېز ټینګ او څرګند کړي او د الله (جل جلاله) ، رسول الله ﷺ او خپل امیر (شیخ صاحب حفظه الله تعالی) اطاعت هم پرځای کړو، ترڅو د دې اهم، ستر او درونډ ځاني او مالي عبادت په ترسره کولو سره د دارینو سعادت او خونډوره ثمره هم ترلاسه کړو.

مسؤول مدير: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیتور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

لا إله إلا الله محمد رسول الله

## د کابل ولایت مرافعه محکمې مرستیال د یادې محکمې د مخزن آمریت له چارو څخه لیدنه وکړه

د کابل ولایت د مرافعه محکمې مرستیال، مفتي محمد مبین الطاف (ابوالاعجاز)، د ۱۴۴۷هـ ق کال د ذوالحجة الحرام میاشتې په ۲۱مه نېټه، د دغه ولایت د اړوند محاکمو د سندونو، دوسیو او رسمي وثیقو د ساتنې او تنظیم له مخزن (مخزن آمریت) څخه لیدنه وکړه.

د دې لیدنې موخه د مخزن آمریت د چارو ارزونه، د اسنادو او وثیقو د ساتنې د بهیر څارنه، د اداري نظم د لا پیاوړتیا لپاره د لازمو تدابیرو نیول او د یاد آمریت د مسؤولینو د ستونزو او وړاندیزونو اورېدل وو.

محترم مفتي صاحب د مخزن آمریت بېلابېلې څانګې له نږدې وکتلې، د اسنادو د ثبت، تنظیم، ساتنې او بېرته سپارلو اړوند اجراآت یې په دقت سره وارزول او د چارو د لا ښه تنظیم، چټکتیا او شفافیت په موخه یې مسؤولینو ته لازمې سپارښتنې او هدایات وړاندې کړل.


نوموړي د قضائي اسنادو او رسمي وثیقو د خوندي ساتنې ارزښت ته په اشاره ټینګار وکړ، چې د مخزن چارې د قضائي ادارو له مهمو او بنسټیزو مسؤولیتونو څخه شمېرل کېږي او باید د اسنادو د ساتنې، تنظیم او لاسرسي په برخه کې پوره دقت او امانتداري وشي.

ورپسې یې د مخزن آمریت له مسؤولینو او کارکوونکو سره څانګړې غونډه وکړه؛ د یاد آمریت له مسؤولینو څخه یې د ورځنیو فعالیتونو، لاسته راوړنو، شته ننګونو او اړتیاوو په اړه معلومات وکړل.

د مرافعه محکمې مرستیال د هغوی خبرې او غوښتنې په غور سره واورېدې او د شته ستونزو د حل، د کاري چاپېریال د لا ښه والي او د چارو د اغېزمنتیا لپاره یې د هر اړخیزې همکارۍ ډاډ څرګند کړ.

همدارنګه نوموړي د مخزن آمریت د مسؤولینو او کارکوونکو هڅې وستایلې او هغوی یې وهڅول چې د اسنادو د ساتنې او تنظیم په برخه کې خپلې چارې په لا زیات اخلاص، دقت او مسؤولیت ترسره کړي، څو د قضائي ادارو مهم اسناد او وثیقې په خوندي او منظم ډول وساتل شي.

د غونډې په پای کې د ګډونوالو ترمنځ د نظرونو او وړاندیزونو تبادله وشوه، د مطرح شویو موضوعاتو په اړه لازمې پرېکړې او سپارښتنې وشوې او غونډه د اسلامي نظام د لا پیاوړتیا او د قضائي چارو د بریالیتوب لپاره د خیر او برکت په دعاء سره پای ته ورسېده.



شماره:۲
تاریخ: ۱٤٤٦/۱/۱۸ هـ ق

## د لمانځه د اقامې په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی فرمان

**لومړۍ برخه**

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله رب العالمین والصلوة والسلام علی سید المرسلین وعلی آله و أصحابه أجمعین

**د لمانځه د اقامې په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی فرمان**

د قرآنکریم د الحج سورت د ٤١م مبارک آیت شریف، د رسول الله علیه وسلم د مبارکو احادیثو، د حضرت عمر رضي‌الله تعالی عنه د اقوالو او فقهي جزئیاتو پر اساس او دا چې د معروفاتو اقامه او د منکراتو ازاله د نقل شوي مبارک آیت پر بناء، د اسلامي نظام د اصلي موخو له جملې څخه دي، لاندې مراتب ابلاغېږي:

**لومړۍ ماده:**

۱ ــ له جماعت سره د لمانځه اقامه‌کول شرعًا واجب او د جماعت تارک د تعزیر مستوجب دی.

۲ ــ د وزارتونو او امارتي ادارو منسوبین او مسئولین شرعًا مکلف دي، چې په خپل لمانځه پابند وي او په تاکل شویو وختونو کې لمونځ له جماعت سره اقامه کړي.

**دوهمه ماده:**

۱ ــ که امارتي منسوب او یا مسئول له موجه عذر پرته لمونځ په جماعت سره اداء نه کړي، د وزارت یا اړوندې اداري د دعوت او ارشاد مسئولین دي، په لومړي قدم کې نوموړي ته توصیه او د تکرار په صورت کې هغه د وزارت یا اړوندې اداري مسئول ته ور وپېژني.

۲ ــ د وزارت یا اړوندې اداري مسئول موظف دی، د جماعت د لمانځه تارک له حنفي فقهې سره سم په مناسب شکل تعزیرکړي.

**درېیمه ماده:**

د ارشاد، حج او اوقافو وزارت مکلفیت لري، د دې فرمان سره ضمیمه د لمانځه په هکله زموږ توصیې، خلکو ته په مکرر ډول بیان کړي.

**څلورمه ماده:**

دغه فرمان د توشیح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جریده کې دې له ضمیمې سره یو ځای خپور شي.

والسلام علیکم ورحمة الله و برکاته

امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث

مولوي هبة الله اخندزاده

**د ۱۴۴۶/۱/۱۸ هـ ق نېټې د (۲) ګڼې فرمان ضمیمه**

**د لمانځه په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی**

**توصیې**

**بسم الله الرحمن الرحیم**

الحمدلله رب العلمین والصلوة والسلام علی سیدالمرسلین و علی آله و أصحابه أجمعین، أما بعد: فقد قال الله تبارک و تعالی في محکم کتابه:

ژباړه: ساتنه کوئ تاسې پر(ټولو) لمونځونو باندې او (خصوصاً) پر لمانځه منځني باندې (چې مازدیګر دی) او درېږئ تاسې الله تعالی ته وېرېدونکي (په ادب سره)[1،2].

**اوله توصیه**

عزتمندو مسلمانانو وروڼو، د اسلامي امارت مسئولینو او عامو مجاهدینو!

ټولو ته مې دا توصیه ده، چې د لمونځونو ډېر خیال ساتئ، هېڅ وخت یې مه قضاء کوئ او په خپل وخت یې اداء کوئ: ځکه چې:

**له ایمان وروسته اول فرض شوی عبادت لمونځ دی:**

د اسلام په مبین دین کې لمانځه ته ډېر لوړ مقام ورکړل شوی دی، تر ایمان وروسته لومړنی عبادت، چې الله پاک امر په کړی دی هغه لمونځ دی.[3]

**د قیامت په ورځ به اول حساب د لمانځه کیږي:**

لمونځ هغه عبادت دی، چې د قیامت په ورځ به یې تر ټولو عبادتونو لومړی له مسلمان سره محاسبه کېږي، رسول الله (صلي‌الله‌تعالی‌علیه‌وسلم) فرمایلي دي: لومړی شئ چې د بنده سره یې د قیامت په ورځ محاسبه کېږي هغه لمونځ دی، که یې لمونځ سم او قبول شو؛ نو د هغه پاتې عملونه به هم سم او قبول شي او که د هغه لمونځ فاسد شو؛ نو د هغه پاتې عملونه به هم فاسد شي.[4]

**لمونځ د نورو عملونو د قبلېدلو سبب دی:**

لمونځ د نورو عملونو د قبلېدلو سبب دی؛ لهذا هر مؤمن مسلمان باید پوره کوښښ وکړي، چې پوره او کامل لمونځ اداکړي؛ ځکه چې کامل لمونځ په ټولو عملونو کې د بریالیتوب او کامیابۍ سبب دی، هغه څوک چې لمونځ یې وساتی هغه دین وساتی او هغه څوک چې لمونځ یې ضایع کړ د هغه به نور عملونه هم ضایع کړل شي.[5]

لمونځ د قیامت په ورځ د خلاصون او رڼا سبب دی:

رسول الله صلی‌الله‌تعالی‌علیه‌وسلم فرمایي: څوک چې لمونځ وساتي (چې تل یې سم اداء کوي سره له ټولو حقوقو) هغه به د قیامت په ورځ رڼا، دلیل او خلاصون ولري او څوک چې لمونځ ونه ساتي نو هېڅ رڼا، هېڅ دلیل، هېڅ خلاصون به ونه لري او هغه به د قیامت په ورځ د فرعون، هامان، قارون او ابی بن خلف سره راپورته کېږي.[6]

**لمونځ الله تعالی ته تر ټولو اعمالو خوښ عمل دی:**

عبدالله بن مسعود رضی‌الله‌تعالی‌عنه وویل: ما د نبي کریم صلی‌الله‌تعالی‌علیه‌وسلم څخه پوښتنه وکړه، چې کوم عمل الله پاک ته ډېر خوښ دی؟ نبي کریم صلي‌الله‌تعالی‌علیه‌وسلم و فرمایل: لمونځ پر خپل وخت اداء کول، بیا مې پوښتنه ځنې وکړه، چې کوم عمل الله پاک ته ډېرخوښ دی بیا یې راته وویل: د مور او پلار سره نېکي کول، درېیم وار مې بیا پوښتنه وکړه بیا یې راته وویل: جهاد في سبیل الله.[7]

۱ - سورة البقره ۲۳۸
۲ - تفسیر کابلی
۳ - قال الله تعالی: الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ وَ يُقِيمُونَ الصَّلوٰةَ وَ مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ( سورة البقرة:آیة ۳)
- لأن أول ما وجب الشهادتان ثم الصلاة ثم الزكاة كما صرح ابن حجر في شرح الأربعين. الدرالمختار وحاشية ابن عابدين (ردالمحتار) (۱/۷۹)
٤ - عن انس رضي الله تعالی عنه عن النبي صلی الله تعالی علیه وسلم قال: اول مایحاسب به العبد یوم القیامة الصلاة فان صلحت صلح له سائر عمله وان فسدت فسد سائر عمله. رواه الطبراني في المعجم الاوسط رقم الحدیث (۱۸۵۹) ج۲/۲٤۰
(أول مایحاسب به العبد یوم القیامة الصلاة) أي المفروضة وهي الخمس لأنها أول مافرض علیه بعد الإیمان وهي علم الإیمان وراية الإسلام (فإن صلحت) بأن كان قد صلاها متوفرة الشروط والأركان وشملها القبول (صلح له سائر عمله) یعني سومح له في جمیع أعماله ولم یضایق في شيء منها في جنب ما واظب من إدامة الصلاة التي هي علم الدین (وإن فسدت) إن لم تكن كذلك (فسد سائر عمله) (۱) أي ضویق فیه واستقصی فحكم بفساده وأخذ منه الأئمة أن حكمة مشروعیة الرواتب قبل الفرائض وبعدها تكمیلها بها إن عرض النقص قال الطیبي: الصلاح كون الشيء علی حالة استقامته وكماله والفساد ضد ذلك وذلك لأن الصلاة بمنزلة القلب من الإنسان فإذا صلحت صلحت الأعمال كلها وإذا فسدت فسدت. فیض القدیر شرح الجامع الصغیر(۵۵۰/۳) ط دارالحدیث قاهرة
٥ - عن عكرمة، عن عمر رضی الله تعالی عنه، قال: جاء رجل، فقال: یا رسول الله أي شيء أحب عند الله في الإسلام؟
قال: الصلاة لوقتها، ومن ترك الصلاة فلا دین له، والصلاة عماد الدین «رواه البیهقي في شعب الإیمان (٤/۳۰۰)
٦ - وعن عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله تعالی عنهما عن النبي صلی الله علیه وسلم: انه ذكرالصلاة یوما فقال: من حافظ علیها كانت له نورا وبرهانا ونجاة یوم القیامة ومن لم یحافظ علیها لم یكن له نورا ولابرهانا ولانجاة وكان یوم القیامة مع قارون وفرعون وهامان وابی ابن خلف. مشكوة المصابیح كتاب الصلوة الفصل الثالث ٥٩/۱ ط امیرحمزه
۷ - عن أبي عمرو الشیباني یقول: اخبرنا صاحب هذه الدار، واومأ بیده الی دار عبد الله، قال: سالت النبي صلی الله علیه وسلم: أي العمل احب الی الله؟ قال: «الصلاة علی وقتها» قال: ثم أي؟ قال: «برالوالدین» قال: ثم أي؟ قال: «الجهاد في سبیل الله» قال: حدثني بهن، ولو استزدته لزادني. رواه البخاري رقم الحدیث (۵۷۳٦)ج۲ ص۸۸۲ الحقانیه.
ومن ذهب الی الغزو وفاتته صلاة فقد ارتكب سبعمانة كبیرة. الفتاوی البزازیة علی هامش الهندیة (۳٤۹/٦)